DA AFGHANISTAN BANK

**د افغانستان بانک**

**د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت**

د مقرراتو او د بریښنایي پیسو او اداینېزو مؤسسو د څارنې مرستیالیت

د مقرراتو ستر مدیریت

گڼه: ۶۶۰۱ ۰۰۳۰ / ۷۸۹۳ / ۸۹۱۴

نېټه: ۱۸/۴/۱۴۴۸

بسم الله الرحمن الرحیم

**د وړو تمویلونو د قدر وړ مؤسسو ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته:

**ماهیت:** متحدالمال

**موضوع:** د وړو تمویلونو مؤسسو د اداري جوړښت او تړونونو په هکله

له ډېر درناوي وروسته؛

ټولو د وړو تمویلونو مؤسسو ته هدایت ورکول کیږي چې د لا ښه مؤثریت په موخه دې لاندې موارد رعایت کړي:

۱. د وړو تمویلونو مؤسسې دې په اداري جوړښت کې اجرائیوي رئیس د مرستیالیت بست ایجاد کړي او وړ کس دې استخدام کولو او لازمو اجراآتو لپاره دې اداري ته راوپیژني؛

۲. هغه مؤسسې چې پانگه وال یې افغانان وي، د څار پلاوي په جوړښت کې یو ثلث او د بهرني پانگه والو په صورت کې دوه ثلث بهرني اتباع استخدام کولای شي؛ او

۳. هغه مؤسسې چې د ملي او نړیوالو ادارو سره د تمویل (فنډ) او بلاعوضو مرستو (گرنټ) ترلاسه کولو په مؤخه تړونونه منعقد کوي، وراندې له دې چې تړون نهایي او د تطبیق مرحلې ته ورسیږي، د افغانستان بانک سره د کتنې په مؤخه شریک کړي؛

موضوع په پورته توگه تاسوته د لازمو اجراآتو په موخه ولیکل شوه.

د افغانستان بانک ستاسو په چارو کې د لا بریاوو غوښتونکی دی. **والسلام**

۱۷/۴/۱۴۴۸

صدیق الله خالد

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

کاپي:

- د وړو تمویلونو مؤسسو د قدر وړ اتحادیې ته؛ او
- د ریاست دفتر د قدر وړ لوی آمریت ته ( زونونو ته د لیږلو په موخه).

د افغانستان بانک، ابن سینا وات، کابل افغانستان/ تیلیفون ۲۱۰۴۷۶۱ (۲۰) ۰۰۹۳/ ایمیل: info@dab.gov.af
تولنیزې شبکې فیسبوک - د افغانستان بانک / تویټر - AFGCentralbank@